مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۵/۱۰/۱۰

# سیلۍ بیا په نوي یون ده

سیلۍ سړه ده لګېدلې
ورېږم بل شان وسوسو کې
سوړ او خوړ دی
ښوریدنکی څغلیدونکی
رسوي د بدلیدو حال
ښکاري داسې
چې حال وایي:
زه پیغام یم د ژوندون
پراوو بل را اړومه
الوتونکي خیال وزر کې
ان تر وراندې لېتوومه
هیلو څرک څرک
په هر لور کې
ښکته پورته
سرګردانه، لالهاتده
انساني احساس
ژورې ته کښیوځم
خوږې سترګې را پرانیځم
او د مینې په خوږ لاس
یتیم اوښکي وچومه
ولږه تنده تولومه
تلونکي پوهه ستنوومه
د وطن پر خړه خاوره
پټې سترګې تورومه
تورتمونو ته مو شا کړم
د حاکم له غوږې وازدې
ستاسې ژوند خړوبومه
تش دې تکې ته یې پام کړمه
چې تولنه پر علومو سمبال نه شي
هلته هر ډول جوړښت
ړنګیداې او خواریداې شي
د پردو په لاس چټک
دوې بیا ځلې خرڅیدایې شي
د زورواکې پټې سترګې
حقیقت ته را پرانیزم
حرص ترې ورمه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

او مړښت ورته راوړمه
د وطن د نوي نسل
ویجاړ حال را یادومه
له ناورینه ډکو پایلو
یې له اوسه خبرومه
مړ ضمیر یې پاڅوومه
د سهار سپیده چاود کې
سباوون راښوورومه
لمر زرینو وړانګو ځل کې
د اسمان په غیږ کې وریځو
تیل ماتیل را جوړومه
چې ورښت بیا تري راشیوه شي
د باران له هر یو څاڅکي
ښه توده ګڼه شیبه شي
د بوډۍ په رنګین تال کې
په سړه خوړه وږمه کې
مهاجرو مرغکیو
په چغار کې د چینچړو
تورانیکو الوتو کې
زاني بیا جوپه جوپه شي
پر اسمان کړي لیکې جوړې
ستنیدونکې توتکې
پر ختینو ځالو سر شي
سوړ موسم کې بیدودوته یې
خپل سکون ښه برابر شي
باد په خپل ښکر تل په ځعاسته
ښکته پورته بل خوزون ته
کایئناتو کې بدله ساه پوکې
په ځپیرو یې وړي سکون ته
سرې غوټۍ په وچیدو شي
پاڼې شین رنګ واړوي
زرغونه ونو جامې کړی
زیړې سرې او ځپڅپاندې
بلبل هم په چوپ کیدو شي
فصل یل په ښکاریدو دی
طبیعت ځي ارامتیا ته
سیلی بیا د راتګ غږ کړي
له جمود وروسته راګرځم
هیلې نورې پنځوومه
نوی ژوند په تلوسه کې لټوومه
ولاړ حال به بدلولمه
بیا شین  شال را لیږدومه
پر غره سمه یې ښوورومه
فلسفه د نوي ژوند به غږومه
بل پړاو را اړومه
تل په دې بدلون کې یمه
نوی ځرک رالټوومه
نوی ځرک را لټوومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ